جنید بنسټ یوه غیر انتفاعي «ناسوداګریزه» موسسه ده چې ښکلې او زبردستې شاعرۍ او کره‌کتنې ته وده ورکوي او تنوع، مساوات او د بیان ازادي پالي.
همداراز، د افغانستان د ځوانو لیکوالو او شاعرانو په تېره بیا ښځو لپاره د فکري او مسلکي ودې اړونده مناسب کلتوري چاپېریال د جوړولو لپاره هڅه کوي چې هغوی خپل تخلیقي فعالیتونه لا زیات او ارزښتمن کړي.

جنید بنسټ د دغو موخو د ترلاسي لپاره دا ګامونه اخلي:
.هر کال د پښتو شعر لپاره سیالۍ جوړوي چې په بېلابېلو پوړونو کې ګټونکي وټاکي او نغدي جایزې ورکړي.
.د لیکوالو او شاعرانو لپاره مناسب تعلیمي کورسونه او سمینارونه دایروي.
. ارزښتمن ادبي اثار پښتو ته ژباړي .
. په افغانستان کې د ځینو غوره آثارو د چاپ د زمینې په برابرولو کې ونډه اخلي.

بنسټ په خصوصي پانګه جوړ شوی او هڅه کوي خپل مالي امکانات د مرستو او لاسنیوي (Donations & Grants) له لارې تامین کړي.